**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# د یمن د ماشومانو نسل‌وژنه دوام لري او قاتلان یې ځانونه سوله راوستونکي بولي

د اپریل په ۲٦مه ملګرو ملتونو یو رپوټ خپور کړ. په دغه رپوټ کې وړاندوینه شوې چې د ۲۰۱۹م کال تر پایه به د یمن په روانه جګړه کې د وژل شوو کسانو شمېر تر ۲۳۰،۰۰۰ واوړي. د دغې څېړنې سرلیک «په یمن کې د جګړې د قربانیانو شمېر په زیاتېدو دی» و؛ په دغه رپوټ کې همداراز راغلي چې د ۲۰۱۵ او ۲۰۱۹م کلونو په منځ کې به ۱۳۱،۰۰۰ یمني اوسېدونکي د جګړې د جانبي اغېزو؛ لکه لوږې، ناروغۍ او د روغتیايي کلینیکونو د نشتون له کبله وژل شوي وي. ملګري ملتونه وايي چې د روان کال په پای کې به د هغو کسانو شمېر چې جګړې یې ژوند اخیستی، ۱۰۲،۰۰۰ ته ورسېږي. جاناتان مایر، د دغه رپوټ مشر لیکوال د یمن د جګړې په اړه داسې ویلي:« له سرې جګړې وروسته یوه داسې کورنۍ جګړه چې تر ټولو لوړ شمېر قرباني لري.» نوموړي همداراز ویلي چې د یمن د جګړې د قربانیانو لویه برخه له پنځو کالو ټیټ ماشومان وو او په هرو ۱۲ دقیقو کې یو ماشوم په جګړه کې یا د جګړې د جانبي اغیزو له کبله وژل کېده. مرستندویې ډلې د تخمین له مخې وايي چې له ۲۰۱۵م کال راهیسي ۸۵،۰۰۰ ماشومان د لوږې له کبله مړه شوي او میلیونونه نور د لوږې او قحطۍ پولې ته نږدې دي.

د یمن چټله جګړه په اصل کې د انګلیس او امریکا تر منځ د دوی د خپلو ګټو او د دغه هیواد پر زېرمو د واکمنېدو لپاره جګړه ده، چې د دوی په استازیتوب دلته په سیمه کې د دوی غلامان (د سعودي په مشرۍ ایتیلاف او د ایران په ملاتړ حوثیان) سره اخته دي. دغې جګړې د یمن د خلکو ډېرې زیربناوې ویجاړې کړې، د یمن د ډېرو خلکو ژوند یې اخیستی؛ دوی ته یې مرګ، لوږه او بدبختي راوستې او ورو ورو د یمن نفوس له منځه وړي. د یمن ماشومان د دغو بې احساسه کپیټلیستي دولتونو د حرص قرباني دي. دوی ته دا هېڅ مهمه نه ده چې د سیاسي لوبو لپاره یې په نورو هیوادو کې څومره کسان زیانمن او قرباني کېږي؛ دوی ته دا هېڅ توپیر نه کوي چې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو بل لوی نفوس د لوږې وروستي حد ته ورسېږي. د جګړې د پیل راهیسي امریکا د سعودي په مشرۍ ایتلاف ته د بیلیونونو ډالرو وسلې ورکړې. همداراز یې په هوا کې د جیټو د سوند موادو نوي کولو غم خوړلی، اکتشافات او د جاسوسۍ معلومات یې ورکړي. انګلیستان هم له ۲۰۱۵ کال راهیسې پر سعودي نیږدې د ۵ بیلیونو ډالرو په ارزښت وسلې پلورلې، چې جنګي جیټ، ډرون او مزایلونه پکې شامل وو.

ضمناً، ملګري ملتونه په یمن کې د جګړې د غزولو لپاره کار کوي، څو د یمن د وږو خلکو په اعاشه معامله وکړي او ګټه ترې واخلي. ملګري ملتونه شپه او ورځ چغې وهي چې یمن د لوږې او قحطی له ناورین سره مخ دی، په دې توګه د مرسته کوونکو په کنفرانس کې د یمن د خلکو د بد وضعیت په نامه مرستې راټولوي، غلا کوي یې بیا یې خپلو او په سیمه کې نورو عنادي سازمانونو ته ورکوي؛ هغه سازمانونه چې په یمن کې د امریکا د پلانونو د عملي کولو لپاره کار کوي. د مرستو ډېره برخه دغو سازمانونو ته د کسانو په ګومارلو او د ډالرو او جلبوونکو معاشونو په واسطه د دغو کسانو په فکري او خلافي ذهن مینځلو باندې لګوي، دوی په دې توګه د هیواد له خراب اقتصادي وضعیت څخه خپله ګټه اخلي.

پر ملګرو ملتونو څنګه باور وکړو؟ دوی په یمن کې د جګړې د پیل راهیسې، د یمن لپاره د مرستې له کنفرانس نه تر ۸ بیلیونو ډېر ډالر ترلاسه کړي او خپلو درجن درجن اجینسیو او سازمانونو ته یې ورکړې، خو د یمن خلک اوس هم له بېوزلی، لوږې او ناروغیو څخه کړېږي. د ملګرو ملتونو سازمانونو د دوی هېڅ ستونزه نه ده حل کړې؛ برعکس، د یمن د خلکو د ناوړه وضعیت په نامه یې بیلیونونه ډالر اخیستي، چې په بدل کې یې د یمن خلکو ته ډېر کم شی رسېدلي.

نو دې هر څه ته له کتو وروسته، پوښتنه کوو چې کوم سالم عقل خاوند کس باور لري، چې دا خلک به د یمن خلکو ته رینښتینې سوله راولي، د یمن د مسلمانو ماشومانو نسل‌وژنه به ختمه کړي او د دوی د ګټو لپاره به کارو وکړي؟ که د ملګرو ملتونو په ملاتړ «د سولې پروسې» دي، که د اپریل په ۲۶مه په لندن کې د برتانیا د بهرنیو چارو وزیر او د امریکا، سعودي عرب، اماراتو او ملګرو ملتونو د استازو تر منځ تش په نامه «د سولې خبرې»؛ یو به یې هم د یمن د مسلمانانو لپاره رینښتینې ګټه ونه لري. دا هغه لېوان دي چې د دوی د ښکار شوي جسد پر سر جګړه کوي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ قَالُواْ إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ * أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَـكِن لاَّ يَشْعُرُونَ﴾**

**ژباړه:** «کله چې هغوی ته وویل شول، چې په ځمکه کې فساد مه کوئ، نو هغوی ویل چې پام مو وي موږ خو اصلاح راوستونکي یو! په حقیقت کې همدوی فساد کوونکي دي، خو شعور نه لري»

[البقره: ۱۱-۱۲]

**اې د یمن مسلمانانو!** د نبوت پر منهج د اسلامي رهبرۍ (اسلامي خلافت) له ژرتر ژره تاسیس څخه ملاتړ وکړئ. همدا یوازینۍ لار ده چې ستاسو د کورنیو او ماشومانو نسل وژنه ختموي او ستاسو په خاوره کې د هر راز استعماري دخالت جرړې وباسي. دغه دولت به د یمن د ټولو مسلمانانو زړونه په اسلامي عقیده او د الله سبحانه و تعالی په الهي قوانینو سره راټول کړي او پر دې به مو باوري کړي چې د دغه دولت تر حاکمیت لاندې سیمه کې به هر اوسېدونکی په امن کې وي. د لوړ کیفیت زدکړو ته به لاسرسی لري، روغتیایي خدمات به ورته له تبعیض پرته رسېږي او ستاسو هیواد ته به د «خوشاله یمن» صفت یو ځل بیا راګرځوي.

**ډاکټر نسرین نواز**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د برخې مشره**

**۱۴۴۰ هـ.ق کال، د رمضان ۴مه**

**۲۰۱۹م کال، د مې ۹مه**

**د صدور ګڼه: ۳۲/۱۴۴۰**

